**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۵** **نېټه: ۲۲ / ۳ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۷/۱۳ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو په ګډون ، د سترې محکمې د محترمې عالي شورا جلسه دایره شوه چې د یاد مجلس د اجنډا لومړنۍ موضوع داسې وه: ((په مرکز او ولایتونو کې د محکمو محترمو منسوبینو ته مېلمانه او یا عارضین مراجعه کوي چې له امله یې د منسوبینو د کار وخت ضایعه کېږي، په دې اړه څه ترتیب وشي؟))

د عالي شورى محترم مقام د ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټې د (۷) ګڼه تصویب د لومړنۍ فیصلې پر بنسټ د پورته یادې موضوع په هکله داسې هدایت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو د ریاستونو منسوبین او د سترې محکمې ټول کارمندان، په ځانګړې توګه، قضائي غړي، باید په رسمي وخت کې له مېلمنو او عارضینو سره له ملاقات څخه ډډه وکړي، عارضین دې یوازې د مستقلې فیصلې یا د واقعي اړتیا په صورت کې راوغواړي.

د دارالانشاء عمومي ریاست دې دا موضوع د متحدالمآل په بڼه ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام د پورتني تصویب لومړنۍ فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.